**CHECK AGAINST DELIVERY**

**Statement by Ms. Shaharzad Akbar**
**UN Security Council Briefing on Afghanistan**
**20 December 2023**

آغلو او ښاغلو!

له تاسو څخه د دې لنډو معلوماتو وړاندې کولو لپاره د فرصت راکولو مننه کوم.

زما نوم شهرزاد اکبر دی. زه د بشر حقونو مدافعه او د رواداري بنسټ اجرايوي رئيسه یم، دا یو افغان سازمان دی چې د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د طالبانو له خوا د افغانستان له نیولو راهیسې یې د ښځو، نجونو او محرومو ډلو په ګډون، د بشر حقونو د وضعیت اړوند راپورونه ورکړي دي.

نن، زه غواړم تاسو سره هغه څه شریک کړم چې موږ په افغانستان کې لیدلي دي، دا چې دا موارد موږ ته د هیواد لپاره د طالبانو د لید په اړه څه وايي، او تر ټولو مهمه دا چې د امنیت شورا په شمول د نړیوالي ښکېلتیا د مخکې تګ لپاره څه معنا لري.

واک ته د طالبانو د بیا راستنیدو راهیسې، موږ په ټول هیواد کې د بشري حقونو د ځپلو اندېښمنوونکې بېلګې مستندې کړې دي.

موږ د ژوند په هر اړخ او هره برخه کې، له ښوونې او روزنې او کار څخه تر آزاد تګ راتګ او په عمومي ژوند کې تر برخې اخستنې پورې د ښځو د حقونو د ځپلو او ظلم شاهدان یوو- یو پراخ او سیستماتیک ظلم چې نړیوالو متخصصینو جنسیتي اپارتاید ګڼلی دی.[1] هره ورځ، موږ په عام محضر کې د جسماني مجازاتو له زیاتوالي سره، او د هغو فرمانونو له زیاتوالي سره، چې د ښځو حقونه او آزادۍ محدودوي، د دغو محدودیتونو د پلي کولو شاهدان یوو، چې اوس یې شمېر ۹۰ ته رسیږي.[2] د طالبانو د ټولشموله حکومت ژمنې، د ښځو حقونو ته درناوی، یا دا چې دغه محدودیتونه به لنډمهاله وي، درواغ ثابت شول.

موږ د مدني فضا پر وړاندې، د بیان د ازادۍ او د رسنیو او د بشر حقونو د مدافعینو پر وړاندې په وحشیانه توګه د ځپنې شاهدان یوو. د افغانستان د ژورنالستانو مرکز په ۲۰۲۳ کې د مطبوعاتو د آزادۍ د سرغړونې د ۹۹ پېښو راپور ورکړی، چې په دې کې ۴۱ نیونې او پر ژورنالستانو جرمي تورونه شامل دي.[3] لږ تر لږه د بشر حقونو دوه مدافعې ښځې، منیژه صدیقي، اوپاریسا ازاده، چې د خپل فعالیت له امله په نښه شوې وې، په توقیف کې پاتې دي.[4]

د اعلان شوې "عمومي عفوې" سره سره، UNAMA او زموږ په څېر د مدني ټولنې سازمانونو د پخوانیو امنیتي ځواکونو او حکومتي کارمندانو رواني وژنې مستندې کړې دي، چې تر دې دمه نه دي څېړل شوې.[5]

موږ د هدفي بریدونو، جبري بې ځایه کولو، او د افغانستان د بېلابېلو مذهبي او توکمیزو ډلو لکه هزاره ګانو، ازبکانو، ترکمنانو او تاجکانو په څېر ډلو د څنډې ته کولو شاهدان یوو، چې په بالفعله اداره کې هیڅ معنا لرونکی استازیتوب نه لري.[6] طالبانو د دې تر څنګ، شیعه دیني عالمان هم د علماوو له ولایتي شوراګانو څخه لیرې کړي دي.[7]

سربېره پردې، موږ د خپلواکې قضایي قوې او د افغانستان د بشر حقونو د خپلواک کمیسیون له منځه وړلو، د نورو قانوني ادارو لکه د افغانستان د مدافع وکیلانو اتحادیې کمزوري کولو، او د شیعه او نورو غیر طالبانو قاضیانو او قانوني مسلکي کسانو بدلولو شاهدان وو، چې په پایله کې یې په پراخه کچه معافیت رامنځته شوی او د قانون حاکمیت یې کمزوری کړی دی.[8]

دا لړۍ موږ ته څه پیغام لري؟

د سرغړونو هغه بېلګې چې ما یې یادونه وکړه، زما د هیواد د راتلونکي لپاره د طالبانو ویجاړونکی لید څرګندوي.

په دغه لید کې، د قانون حاکمیت نشته.

په دغه لید کې هیڅ مخالفین، د بشري حقونو مدافعین او هیڅ خپلواکه رسنۍ نشته.

په دغه نړۍ کې د زده کړو د کیفیت او هراړخیزوالي لپاره هیڅ نشته، او په پایله کې یې، هیڅ اقتصادي سوکالي وجود نلري.

د رایې لپاره هیڅ صندوق او د خلکو لپاره د انتخابولو حق ته هیڅ درناوی نشته.

په دغه راتلونکي کې، د افغانستان حکومت تقریبا په بشپړ ډول د مدرسې فارغینو طالبانو څخه جوړ دی، چې خپل مشر سره ړنده وفاداري لري. مېرمنې او محروم شوې توکمیزې، ژبنۍ او مذهبي ډلې په واک او پریکړو کې برخه نه لري.

په دې لید کې، ښځې د نارینه وو په پرتله لږ انساني دي. د ښځو زده کړه مهمه نه ده. د دوی سم ځای په کور کې دی. دوی په تصمیم نیولو او حکومتدارۍ کې هیڅ رول نلري. دوی په دوامداره توګه د خپلو نارینه ماشومانو او خپلوانو، تکسي چلوونکو، مذهبي پولیسو او د بالفعل چارواکو د ټول ماشین لخوا څارل کیږي او ځای په ځای کیږي. کله چې دوی د تاوتریخوالي او ناوړې ګټه اخیستنې سره مخ شي، یوازیني انتخاب دادې چې یا یې وزغمي یا ووژل شي.

آغلو او ښاغلو، زه له تاسو پوښتنه کوم: ایا نړیواله ټولنه د دې راتلونکي ملاتړ غواړي؟

اوس، اجازه راکړئ له تاسو سره یو متفاوت لید شریک کړم. موږ- ډېری افغانان- یو مساوي، سوله ایز او سوکاله هیواد غواړو. موږ داسې یو هیواد غواړو چې له خپلو ښځو او نجونو سره په جګړه کې نه وي. موږ یو داسې هیواد غواړو چې خپله بډایه قومي، ژبني او مذهبي تنوع په غېږ کې نیسي. او موږ یو داسې هیواد غواړو چې د ټولو افغانانو بشري حقونو ته درناوی وکړي.

طالبانو، تاسو نړیوالې ټولنې ته وښودله، چې دوی څوک دي. او موږ افغان میرمنو تاسو ته ویلي دي، چې موږ څه غواړو.

ستاسو پر وړاندې انتخاب دا دی چې- ایا تاسو به زموږ د سوله ایز، مساوي، متنوع، ولسواک افغانستان ملاتړ وکړئ، که د طالبانو د لید ملاتړ به وکړئ، چې د ملګرو ملتونو د منشور او هغو اساسي ارزښتونه څخه سرغړونه کوي، چې دا شورا یې د ساتلو ادعا لري؟

اوسمهال، دا هغه طالبان دي چې د لوبې قواعد تعریفوي، او بشردوستانه سازمانونه، ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه اړ دي چې پر ناځېزو امتیازاتو د خبرو اترو لپاره د هغوی پر قواعدو ولوبیږي. دا عجیبه ده، په داسې حال کې چې موږ تینګار کوو چې بشري مرستې هیڅکله مشروطې کیدای نشي، دا هغه طالبان دي چې په ډیرو سکتورونو کې له کار کولو څخه د ښځو په منعه کولو یې د ملګرو ملتونو او بشري سازمانونو پر کار کولو شرایط تحمیل کړي دي. او په خواشینۍ سره، ملګرو ملتونو او بشردوستانه فعالینو په دې اړه پیروي کړې ده.

اجازه راکړئ چې روښانه ووایم: افغانستان پرله پسې او ډېرېدونکې نړیوالې مرستې ته اړتیا لري. موږ همدا راز باید طالبانو ته له ګټې رسېدو پرته پر عادي افغانانو د اقتصادي فشار د کمېدو لپاره لارو چارو موندلو ته دوام ورکړو. که څه هم، په افغانستان کې وضعیت یوازې یو بشري بحران نه دی. دا یو سیاسي، امنیتي، او په خورا بنسټیزه توګه، د بشري حقونو او د ښځو د حقونو بحران دی- او موږ تاسو ته اړتیا لرو، د امنیت شورا دې دا روښانه کړي چې د بشر حقونه، په ځانګړې توګه د ښځو حقونه به د دې بحران د حل لپاره د نړیوالې ټولنې د راتلونکو ګامونو مرکز وي.

له همدې امله زه تاسو سره لاندې وړاندیزونه شریکوم.

**لومړی**، څرنګه چې تاسو د هغه خپلواکي ارزونې د وړاندیزونو د پرمختګ د څرنګوالي په اړه چې د افغانستان په اړه د ۲۶۷۹ پریکړه لیک له مخې تعین شوې سلا-مشورې کوي، دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې هیڅ ډول ګامونه باید د ډیرو افغان میرمنو له تکراري سپارښتنو سره مخالفت ونه لري، دا چې د طالبانو سره باید هیڅ اصولي تعامل ونشي او هغوی په رسمیت و نه پېژندل شي، یا په ملګرو ملتونو کې د هغوی لپاره څوکۍ تر هغې چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د طالبانو په منظمه توګه تبعیض دوام ولري ور نکړي. د تعامل لپاره په داسې حال کې د لارنقشې ټاکل چې د طالبانو سرغړونې په ژوره توګه دا پیغام لیږدوي چې د ښځو حقونه اړین نه دي. د دې موخې لپاره، زه له تاسو څخه په کلکه غواړم، چې په هر ډول پریکړو او نویو میکانیزمونو کې چې پر مخ ځي، د ښځو د بشپړ، برابر او معنا لرونکي ګډون په شمول، د افغان میرمنو د بشري حقونو د ساتنې لپاره د واضح او ښکاره محافظت له رامنځته کولو پرته، د راپور د وړاندیزونو لپاره د پر دې تر شا تصویب چمتو نه کړئ. زه له تاسو څخه غوښتنه کوم چې روښانه و اوسئ چې طالبانو سره د اړیکو "عادي کول" امکان نلري، پرته له دې چې طالبان د ښځو د حقونو په اړه ټول محدودیتونه بیرته وانخلي، هغه چې تاسو یې د ۲۶۸۱ (۲۰۲۳) په پریکړه لیک او ناسته کې غوښتنه کړې، او په بشپړ ډول، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون CEDAW په ګډون د نړیوال قانون لاندې د افغانستان مکلفیتونه پر ځای کړي.[9] دا باید د غړو هیوادونو، د ملګرو ملتونو ادارو او ټولو بشردوستانه فعالینو لپاره ډله ایزه سره کرښه وي، او باید د امنیت، اقتصاد، پراختیا، د ترهګرۍ ضد مبارزې، او ډله ییز

مهاجرت په ګډون، د افغانستان په اړه د ټولو نورو برخو اړوند د خبرو اترو مرکز وي. همدارنګه دا هم مهمه ده، چې ټول راتلونکي ګامونه تر هغه څه کم نه وي، چې د امنیت شورا یې وار له مخه غوښتنه کړې ده.

**دويم.** زه له تاسو څخه غوښتنه کوم چې د ټولو هغو لارو ملاتړ وکړئ چې پربنسټ یې عدالت تضمینیږي او د طالبانو له لوري د بشري حقونو د نقض په اړه حساب ورکوونه رامنځته کوي، له دې ډلې د افغانستان په اړه د یو خپلواک او ځواب ورکوونکي نړیوال میکانیزم رامنځته کولو څخه ملاتړ کول دي.

**دريم.** زه د غړو هیوادونو او د ملګرو ملتونو له نورو اړوندو ادارو څخه په کلکه غواړم چې د طالبانو لخوا له افغان میرمنو سره چلند د جنسیتي ځورونې او د جنسیتي اپارتايډ د بنسټیز شوي چوکاټ په توګه په نښه او وپیژني. د جنسیتي ځورونې په بشپړه توګه پلټنه وکړي او مرتکبین یې حساب ورکوونکي کړي. د بشریت پر وړاندې د جرمونو په تړون کې جنسیتي اپارتايډ شامل کړي، چې دا تړون دا مهال تر غور لاندې دی.

**څلورم.** دا مهمه ده چې UNAMA، په هیواد کې د ملګرو ملتونو د لومړني حضور په توګه، خپل اوسنی واک په بشپړ ډول وساتي او پلی کړي، په ځانګړې توګه د بشري حقونو د درناوي د څارنې او وکالت، او په خطر کې د واقع کسانو د ساتنې لپاره.

**په پای کې،** نړیواله ټولنه باید په خطر کې د واقع کسانو د بیا مېشتېدنې له لارې، په افغانستان کې د مدني چارو د تمویل، او د افغانستان د بشر حقونو له ټولنې سره د معنا لرونکو مشورو په دوام سره، د بشر حقونو د افغان مدافعینواو د مدني ټولنې ملاتړ ته لومړیتوب ورکړي، که هغه وطن پرېښودو ته اړیستل شوي مدافعین دي او که هغه زړور فعالان دي چې په هیواد کې دننه پاتې دي.

**مننه!**

---

[1] Karima Bennoune, "The International Obligation to Counter Gender Apartheid in Afghanistan," Columbia Human Rights Law Review 54, no. 1, 2022: 1-88. https://hrlr.law.columbia.edu/hrlr/the-international-obligation-to-counter-gender-apartheid-in-afghanistan/.

[2] UNAMA, "Corporal Punishment and the Death Penalty in Afghanistan," May 2023, https://unama.unmissions.org/corporal-punishment-and-death-penalty-afghanistan.
United States Institute of Peace, "Tracking the Taliban's (Mis)Treatment of Women," accessed September 18, 2023, https://www.usip.org/tracking-talibans-mistreatment-women.

[3] Afghanistan Journalists Center, "Press Freedom Violations 2023," 2023, https://afjc.media/db/en/report/2023.

[4] Amnesty International, "Afghanistan: Stop punishing women protestors," 7 December 2023, https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/7509/2023/en/.

[5] UNAMA, "Impunity prevails for human rights violations against former government officials and armed force members," 22 August 2023, https://unama.unmissions.org/impunity-prevails-human-rights-violations-against-former-government-officials-and-armed-force.
Rawadari, "Human Rights Situation in Afghanistan: Mid-year Report 1 January to 30 June 2023," August 2023, https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_English.pdf?#.

[6] Rawadari, "Repression, Regressions & Reversals: One Year of Taliban Rule & Human Rights in Afghanistan, 15 August 2021 – 15 August 2022," 10 December 2022, https://rawadari.org/10122022196.htm/.

[7] Report of the Secretary-General, "The Situation in Afghanistan and its implications for international peace and security," (S/2023/941), 1 December 2023, https://unama.unmissions.org/sites/default/files/sg_report_on_the_situation_in_afghanstian_december_2023.pdf.

[8] Rawadari, "Repression, Regressions & Reversals."

[9] United Nations Security Council, Resolution 2681 (S/RES2681), 27 April 2023, https://undocs.org/S/RES/2681(2023).